# ترجمه‌ای جدید از قرآن مجید به زبان پشتو

گروه ترجمهٔ پشتو

۞ تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ ۖ
وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَـٰتٍ ۚ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَـٰتِ
وَأَيَّدْنَـٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ ۗ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ
بَعْدِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَـٰتُ وَلَـٰكِنِ ٱخْتَلَفُوا۟
فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلُوا۟
وَلَـٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿۲۵۳﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنفِقُوا۟
مِمَّا رَزَقْنَـٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا
شَفَـٰعَةٌ ۗ وَٱلْكَـٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿۲۵۴﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ
ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ
وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ
مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا
بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ
وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ ﴿۲۵۵﴾ لَآ إِكْرَاهَ فِى ٱلدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ
ٱلْغَىِّ ۚ فَمَن يَكْفُرْ بِٱلطَّـٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ
بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَا ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۵۶﴾

۲۵۳. دا هغه پیغمبران دي چې ځینو ته مو په ځینو فضیلت (مرتبه) ورکړے دے، په دوي
کښې یې له ځینو سره خبرې وکړې او د ځینو مرتبې (درجې) یې اوچتې کړې او د مریم
زوي عیسیٰ ته مو ښکاره نښانې (دلیلونه، معجزې) ورکړې او په روح القدس (پاک
روح، جبرائیل) سره مو هغه پیاوړے (تائید) کړ او که خداې غوښتے نو هغه کسان
چې له دوي (پیغمبرانو) وروسته وو، د ښکاره نښانو له راتللو نه وروسته، به په
خپلو کښې نه جنګیدل خو هغوي اختلاف وکړ نو ځینو یې ایمان راوړ او ځینې یې
کافر شول او که خداې غوښتے نو په خپلو کښې به یې جنګونه نه کول خو خداې چې
څه غواړي هغه کوي.

۲۵۴. اے هغو کسانو چې ایمان مو راوړے دے! کومه روزي چې مو تاسو ته درکړې ده له
هغې څخه خیرات ورکړئ وړاندې له دې چې هغه ورځ راشي چې نه پکښې تجارت
(معامله) کیږي او نه پکښې دوستي او نه پکښې (د چا) شفاعت. او همدا کافران
ظالمان دي.

۲۵۵. الله، چې بې له هغه بل خداې (د عبادت لائق) نیشته. تل پاتې ژوندے دے (د
پینځون، قایموونکے[1] دے، پرمخې ورځي او نه خوب او هر هغه څه چې په آسمانونو
او ځمکه کښې دي یوازې د هغه دي. څوک دي چې د هغه په نزد بې د هغه له اجازې (د
چا) شفاعت (سفارش) وکړي. هغه د هغوي[2] (شفیعانو یا د عالمینو په اوسیدونکیو)
په راتلونکي او تېرو (حالتونو) خبر دے او د هغه د علم په یوې برخې هم واک نه شي
مونده مګر په هغه څه (احاطه کولے شي، معلومولے شي) چې هغه یې وغواړي. د
هغه کرسي (حکومت، قدرت) په آسمانونو او ځمکه خپره ده او د دې دواړو ساتل
هغه هیڅ کله نه ستړے کوي او هغه د لوړې درجې او سترتوب څښتن دے.

۲۵۶. په دین (قبلولو) کښې څه زور زیاتے نیشته. سمه لاره له بدې (کږې لارې) ښکاره شوې
ده نو هر څوک چې له طاغوته[3] منکر شي او په خداې ایمان راوړي نو په یقین سره
داسې کلک پړي ته یې لاس اچولے دے چې هیڅکله نه شلیږي او خداې ښه
اوریدونکے او پوه دے.

---

۱. «قیّوم» یعني هم په خپله قایم، دایم او باقي دے او هم د جهانونو نظام او ټول موجودات د هغه په واسطه قایم او ولاړ دي

۲. د هغوي ضمیر نه مراد یا شفیعان او سفارش کوونکي دي یا ترې د دوو عالمو اوسیدونکي مراد دي او هغه خبر دے په هغه څه چې تېر شوي دي او په هغه څه چې راتلونکي دي یا په هغه څه چې دوي نه پټ دي او په هغه څه چې دوي ته ښکاره دي

۳. طاغوت - شیطانان، بتان، ظالمان او هر هغه څوک چې له خپل حده تېر شي او په خلکو باندې د خداې د حکمونو په ځاي خپل حکمونه جاري کړي

ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخْرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ
وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوْلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ
ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِۗ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمْ فِيهَا
خَٰلِدُونَ ﴿۲۵۷﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِي حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ فِي رَبِّهِۦٓ
أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّيَ ٱلَّذِي يُحْيِۦ
وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْيِۦ وَأُمِيتُۖ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِي
بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِي
كَفَرَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿۲۵۸﴾ أَوْ كَٱلَّذِي
مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْيِۦ
هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَاۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِاْئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥۖ
قَالَ كَمْ لَبِثْتَۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍۖ قَالَ بَل
لَّبِثْتَ مِاْئَةَ عَامٍ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْۖ
وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِۖ وَٱنظُرْ إِلَى
ٱلْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًاۚ فَلَمَّا
تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۲۵۹﴾

**۲۵۷**. خداي د هغه کسانو دوست (مشر) دے چې ایمان یې راوړے دے. هغوي له تیارو نه رڼا ته راوباسي او کوم کسان چې کافران شوي دي د هغوي دوست (مرستیال) طاغوت دي هغوي له رڼا څخه تیارو ته بوځي هغوي دوزخیان دي او تل به په هغه کښې وي.

**۲۵۸**. آیا د هغه کس (نمرود حال) دې ونه لیده چې له ابراهیم سره یې د خدا (د وجود) په هکله بحث وکړ ځکه چې خدای ورته باچاهي ورکړې وه؟! کله چې ابراهیم وویل: زما رب هغه دے چې ژوندي کول او مړکول کوي. هغه وویل: «زۀ هم ژوندي کوم او مړه کوم[1]» ابراهیم وویل: نو بیشکه الله لمر له ختیځه (مشرقه) راخیژوي. ته یې له لویدیځه (مغربه) راوخیژوه» نو څوک چې کافر شوے ؤ حیران (هک دک) پاتې شو او خدای ظالمانو ته (د سمې لارې) هدایت نه کوي.

**۲۵۹**. یا د هغه چا (عُزیر) په شان چې په یو ښار تیر شو چې چتونه او دیوالونه یې نړیدلي وو. ویې ویل: «خداي به دوي (د ښار اوسیدونکي) پس له مرګه بیا څنګه ژوندي کوي؟» نو خدای هغه سل کاله مړ کړ. بیا یې ژوندے کړ. ورته ویې فرمایل: «څومره ځنډ به دې کړې وي؟» ویې ویل: «یوه ورځ یا تر ورځې لږ کم به ځنډیدلےوم» ویې فرمایل: «نه. سل کاله پروت وې. خپل خوراک څښاک ته دې وګوره چې (د له کلونو تېریدو وروسته هم) سخا شوي نه دي او خپل خرۀ ته دې وګوره (چې هډونه یې هم وراسته شوي دي) او د دې لپاره چې تا د خلکو لپاره (پر قیامت) نښه (او دلیل) وګرځوو او (د خپل خرۀ) هډوکو ته وګوره چې څنګه یې رااخلو (یوځاي کوو) او بیا څنګه غوښه وراغوندو» نو کله چې ورته (د مړو د بیا ژوندي کولو عین الیقین شو) ثرګنده شوه نو ویې ویل: «پوهیږم چې خدای په هر څه ښه قادر دے».

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

---

۱. مرګ او ژوند یوازې د خدای په لاس کښې دے د ژوندي کولو نه مطلب په بدن کښې روح اچول دي او د مرګ نه مراد روح اویاسل دي خو نمردو دا ګمان کاوۀ چې کوم سړي ته د قتل حکم شوے دے که هغه بچ کړے نو دا ژوندي کول دي او کوم سړي ته چې د مرګ حکم نه دے شوے که هغه مړ کړے نو دا مړه ول دي نو ځکه یې دا کار وکړ

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِي كَيۡفَ تُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ قَالَ أَوَلَمۡ
تُؤۡمِنۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطۡمَئِنَّ قَلۡبِيۖ قَالَ فَخُذۡ أَرۡبَعَةٗ مِّنَ
ٱلطَّيۡرِ فَصُرۡهُنَّ إِلَيۡكَ ثُمَّ ٱجۡعَلۡ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٖ مِّنۡهُنَّ جُزۡءٗا
ثُمَّ ٱدۡعُهُنَّ يَأۡتِينَكَ سَعۡيٗاۚ وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ
﴿٢٦٠﴾ مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ
أَنۢبَتَتۡ سَبۡعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنۢبُلَةٖ مِّاْئَةُ حَبَّةٖۗ وَٱللَّهُ
يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ
أَمۡوَٰلَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتۡبِعُونَ مَآ أَنفَقُواْ مَنّٗا وَلَآ
أَذٗى لَّهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ
يَحۡزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾ ۞قَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞ وَمَغۡفِرَةٌ خَيۡرٞ مِّن صَدَقَةٖ
يَتۡبَعُهَآ أَذٗىۗ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٞ ﴿٢٦٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
لَا تُبۡطِلُواْ صَدَقَٰتِكُم بِٱلۡمَنِّ وَٱلۡأَذَىٰ كَٱلَّذِي يُنفِقُ مَالَهُۥ
رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ
صَفۡوَانٍ عَلَيۡهِ تُرَابٞ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٞ فَتَرَكَهُۥ صَلۡدٗاۖ لَّا يَقۡدِرُونَ
عَلَىٰ شَيۡءٖ مِّمَّا كَسَبُواْۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٦٤﴾

۲۲۰. او (یاد کړه هغه وخت) چې کله ابراهیم وویل: «اے زما ربه! ماته وښایه چې ته مړي څنګه ژوندي کوې؟» ویې ویل: «ستا باور نیشته؟» ویې ویل: «ولې نه[1] (باور مې شته) خو د دې لپاره چې زړه مې مطمئن شي» ویې فرمایل: «نو څلور مارغان ونیسه (حلالې یې کړه) ټوټې ټوټې یې کړه (ټوټې یې سره ګډې کړه) بیا په هر غرهٔ باندې د دوي یوه یوه برخه کیږده بیا یې راوبوله نو دوي به تا ته په منډه را شي او پوه شه چې خدای ډېر غالب او د ښه حکمت څښتن دے».

۲۲۱. د هغه کسانو مثال چې خپل مالونه د خدای په لار کښې لګوي، د هغه دانې په شان دے چې اووه وږي زرغون کړي په هر یو وږي کښې سل دانې وي او خدای چې چا ته وغواړي نو (عمل) ورله څو چنده کوي او خدای (په نعمت ورکولو کښې) د پراختیا او پوهې خاوند دے

۲۲۲. هغه کسان چې خپل مالونه د خدای په لار کښې خیراتوي بیا په خپل خیرات پسې زباټل (احسان وریادول) نه کوي او آزار نه رسوي، د هغوي اجر د هغوي له پروردګار سره دے. نه هغوي ته څه خطره شته او نه به غمژنیږي.

۲۲۳. خوږه خبره او بخښنه، تر هغه صدقې (خیراته) ښه دہ چې ورپسې آزار وي او خدای غني (بې نیازه) او حلیم دے.

۲۲۴. اے هغه کسانو چې ایمان مو راوړے دے! خپلې صدقې (خیراتونه) په زباټلو او آزارولو مه باطلوئ د هغه چا په شان چې خپل مال خلکو ته د (ځان) ښودلو لپاره خیراتوي او نه په خدای ایمان لري او نه د قیامت په ورځ. نو د هغه مثال د هغې ګټې (تیږې) دے چې ورباندې خاوره پرته وي نو تیز باران پرې راشي او (خاوره ترې یوسي) صافه (هواره) یې پریږدي. (ریاکاران به همدا رنګ) له هغه څه چې کړي یې دي هیڅ په لاس رانه وړي او خدای کافرانو ته هدایت نه کوي.

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

۱ په پښتو کښې د «او» جواب په ځای «ولې نه» ټکې هم استعمالیږي

وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ
وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ
فَـَٔاتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ۗ
وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿۲۶۵﴾ أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ لَهُۥ
جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ لَهُۥ
فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَأَصَابَهُ ٱلْكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٌ
ضُعَفَآءُ فَأَصَابَهَآ إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَٱحْتَرَقَتْ ۗ كَذَٰلِكَ
يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿۲۶۶﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنفِقُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا
لَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا۟ ٱلْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ
وَلَسْتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغْمِضُوا۟ فِيهِ ۚ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ
حَمِيدٌ ﴿۲۶۷﴾ ٱلشَّيْطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِٱلْفَحْشَآءِ ۖ
وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ
﴿۲۶۸﴾ يُؤْتِى ٱلْحِكْمَةَ مَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ ٱلْحِكْمَةَ فَقَدْ
أُوتِىَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿۲۶۹﴾

۲۶۵. د هغو کسانو مثال چې خپل مالونه د خدای د رضا د حاصلولو او د خپل روح (نفس) د مضبوطیا (ثبات) لپاره لګوي د هغه باغ په شان دے چې په لوړه ځمکه (لګیدلے وي) زورور باران پرې وشي نو څو چنده میوې ورکړي او که زورور باران پرې ونه شي نو ترې باران (یا پرخه) هم کافي ده او خدای ستاسو د کړدو (کارونو) ښه لیدونکې دے.

۲۶۶. آیا په تاسو کښې څوک دا خوښوئ چې د هغه دې د کجورو (خرماؤ) او انګورو یو باغ وي چې د هغې (د ونو) لاندې ویالې بهیږي او د هغه لپاره پکښې هر ډول میوه وي او دا (سړے) زوړ (بوډا او ضعیف) شي او ناتوانه (وړوکے) اولاد لري ناڅاپه پرې سخت اورین باد راشي او (دا باغ) وسوځي؟! خدای همدارنګ خپل آیتونه تاسو ته روښانه بیانوي (ښایي) چې تاسو فکر وکړئ.

۲۶۷. اے هغو کسانو چې ایمان مو راوړے دے! (د الله په لار کښې) ولګوئ له هغو پاکو (مالونو) چې تاسو ګټلي دي (لاس ته مو راوړي دي) او له هغه څه چې ستاسو لپاره مو له ځمکې راویستلي دي او د هغه ناکاره څیزونو د ورکولو (خیراتولو) قصد مه کوئ په داسې حال کښې چې (که تاسو ته یې څوک درکړي نو) هاله یې اخلئ چې سترګې پرې پټې کړئ او پوه شئ چې خدای غني (بې نیازه) او ستایلے شوے دے.

۲۶۸. شیطان تاسو ته د فقیرۍ وعده درکوي (له نیستۍ مو ویروي) او تاسو ته د ناوړو (بدو) کارونو حکم درکوي او خدای تاسو ته د بخشش (مغفرت) فضل او احسان وعده درکوي او خدای (د نعمتونه په ورکولو کښې) پراختیا او پوهې خاوند دے.

۲۶۹. او هر چا ته چې وغواړي حکمت[1] ورکوي او چا ته چې حکمت ورکړے شي نو هغه ته لوي خیر ورکړل شوے دے او یوازې د عقل خاوندان (له دې) سبق (پند او نصیحت) اخلي.

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

۱ حکمت: د ښه کړو وړو او د ښو خیرو علم او له باطله د حق او له بدو د ښو جلا کولو او پیژندلو ته وایي

وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ
يَعْلَمُهُۥ ۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ إِن تُبْدُوا۟
ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا
ٱلْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن
سَيِّـَٔاتِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾ ۞ لَّيْسَ
عَلَيْكَ هُدَىٰهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ۗ وَمَا
تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا
ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ ٱللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ
وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾ لِلْفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحْصِرُوا۟
فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِى ٱلْأَرْضِ
يَحْسَبُهُمُ ٱلْجَاهِلُ أَغْنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم
بِسِيمَٰهُمْ لَا يَسْـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ
خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُم
بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ
رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾

۲۷۰. او تاسو چې کوم خیرات یا نذر کوئ نو بیشکه الله ته معلوم دے او د ظالمانو هیڅ څوک مرستیال (مددګار) نیشته[1].

۲۷۱. که خیراتونه په ښکاره ورکړئ نو ښه ده او که پټ یې کړئ او فقیرانو ته یې ورکړئ نو دا ستاسو لپاره لا بهتره ده او تاسو ته ګناهونه معافوي او خدای ستاسو په عملونو ښه خبر دے.

۲۷۲. د هغوي هدایت (په زور سمې لارې ته راوستل) په تا لازم نه دي بلکې خدای چې چا ته وغواړي هغه ته هدایت ورکوي او څه چې تاسو خیراتوئ هغه ستاسو (د ښېګړې) لپاره دي او یوازې د خدای د رضا د حاصلولو لپاره خیرات کوئ او هر څه چې تاسو خیرات کړئ هغه به تاسو ته پوره پوره درورسیږي او له تاسو سره به زیاتے نه کیږي.

۲۷۳. (خیراتونه) د هغه فقیرانو حق دے چې د خدای په لار کښې ښکیل شوي (نښتي) دي چې په ځمکه کښې (د کاروبار لپاره) چرته نشي تللې. (خو) ناخبره ورباندې د مړه خوېۍ (سوال نه کولو) په وجه د شته منو ګمان کوي. ته هغوي له څېرو پېژنې. د خلکو نه په ټینګار سوال نه کوي او هر څه چې خیراتوئ خدای ترې ښه خبر دے.

۲۷۴. هغه کسان چې شپه او ورځ، پټ او ښکاره خپل مالونه خیراتوي نو دهغوي اجر د هغوي له پروردګار سره دے نه هغوي ته څه ویره شته او نه غمژنیږي.

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

---

۱. انفاق مطلقاً هغه خرچ ته وايي چې انسان يې کوي خو په ډېرو آيتونو کښې لکه په دې آيت کښې هغه خرچ ته وايي چې د خدای په لار کښې وشي او هغې ته واجب يا مستحب خرچ ويلې شي نذر هغه وعدې ته وايي چې انسان يې له خدای سره کوي چې دا کار به وکړي لکه چې وايي دا پيسې به په فلاني ځاي کښې لګوم په دې آيت کښې فرمايي چې خدای له ټولو خبر دے او د هغه په نږد څه نه ورکيږي او که ظلم يې وکړ يعنې هغه انفاق چې بايد کړے يې وے ويې نه کړ يا يې په ناجائزه لار کښې يا د ريا لپاره يې خرچ کړ يا يې خپل نذر پوره نکړ نو دوي دې پوه شي چې د خدای د سزا په مقابل کښې به د دوي هيڅوک مرستيال نه وي

ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي
يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡبَيۡعُ
مِثۡلُ ٱلرِّبَوٰاْۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ فَمَن جَآءَهُۥ
مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمۡرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَنۡ
عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾ يَمۡحَقُ
ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرۡبِي ٱلصَّدَقَٰتِۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ
﴿٢٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ
وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ
وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ
وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ
فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَإِن تُبۡتُمۡ فَلَكُمۡ رُءُوسُ
أَمۡوَٰلِكُمۡ لَا تَظۡلِمُونَ وَلَا تُظۡلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ وَإِن كَانَ
ذُو عُسۡرَةٖ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيۡسَرَةٖۚ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ
إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا تُرۡجَعُونَ فِيهِ إِلَى
ٱللَّهِۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٢٨١﴾

۲۷۵. څوک چې سود خوري هغوي به (دقیامت په ورځ) یوازې د هغه چا په شان پاڅیږي چې شیطان پرې لاس وهلی او لیونی کړے یې دے، دا ځکه چې دوي وایي تجارت د سود په شان دے، په داسې حال کښې چې خدای تجارت حلال کړے دے او سود یې حرام کړے دے نو هر چا ته چې د خدای له طرفه پند (نصیحت) راغے او هغه (له سود اخستلو) منعې شو نو تیر شوے (سود چې یې اختسے) د دهٔ لپاره دے او معامله یې خدای ته (سپارل شوې) ده او څوک چې (سود خورۍ ته) بېرته وګرځید نو همدغه دوزخیان دي او تل به په هغه کښې وي.

۲۷۶. خدای سود تباه کوي (برکت یې کموي) او صدقې زیاتوي او خدای پاک هیڅ یو ناشکره ګنهګار نه خوښوي.

۲۷۷. کومو کسانو چې ایمان راوړ او نیک کارونه یې وکړل او لمونځ یې قائم کړ او زکات یې ورکړ، د هغوي اجر د هغوي له پروردګار سره دے نه هغوي ته څه ویره شته او نه به غمژنیږي.

۲۷۸. اے هغو کسانو چې ایمان مو راوړے دے له خدایه ویریږئ او که مؤمنان وئ نو باقې پاتې سودونه پریږدئ.

۲۷۹. او که ومو نه کړل (سودونه مو پرې نه ښودل) نو خدای او د هغه رسول سره د جنګ اعلان وګړئ او که توبه مو وویستله نو خپل اصلي رقم ستاسو دے. مهٔ تاسو ظلم کوئ (چې سود وغواړئ) او نه به په تاسو ظلم کیږي (خپل اصل پانګه به درته واپس کیږي).

۲۸۰. او که (د پور وړي) لاس تنګ وي نو هغه ته د لاس تر ازادیدو پورې وګورئ او صدقه ورکول (او پور وړي ته بخښل) ستاسو لپاره ښه دي که تاسو پوهیږئ.

۲۸۱. او له هغې ورځې وویریږئ چې خدای ته به پکښې جار ایستل کیږئ بیا به هر چا ته د خپل کار پوره پوره بدله ورکړے شي او په هغوي به هیڅ زیاتے نه کیږي.

پرتال جامع علوم انسانی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيۡنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى
فَٱكۡتُبُوهُۚ وَلۡيَكۡتُب بَّيۡنَكُمۡ كَاتِبُۢ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَلَا يَأۡبَ
كَاتِبٌ أَن يَكۡتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُۚ فَلۡيَكۡتُبۡ وَلۡيُمۡلِلِ
ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبۡخَسۡ مِنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ
فَإِن كَانَ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ سَفِيهًا أَوۡ ضَعِيفًا أَوۡ لَا يَسۡتَطِيعُ
أَن يُمِلَّ هُوَ فَلۡيُمۡلِلۡ وَلِيُّهُۥ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَٱسۡتَشۡهِدُواْ شَهِيدَيۡنِ
مِن رِّجَالِكُمۡۖ فَإِن لَّمۡ يَكُونَا رَجُلَيۡنِ فَرَجُلٞ وَٱمۡرَأَتَانِ
مِمَّن تَرۡضَوۡنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ إِحۡدَىٰهُمَا فَتُذَكِّرَ
إِحۡدَىٰهُمَا ٱلۡأُخۡرَىٰۚ وَلَا يَأۡبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْۚ وَلَا تَسۡـَٔمُوٓاْ
أَن تَكۡتُبُوهُ صَغِيرًا أَوۡ كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ أَقۡسَطُ
عِندَ ٱللَّهِ وَأَقۡوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَرۡتَابُوٓاْ إِلَّآ أَن تَكُونَ
تِجَٰرَةً حَاضِرَةٗ تُدِيرُونَهَا بَيۡنَكُمۡ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ
أَلَّا تَكۡتُبُوهَاۗ وَأَشۡهِدُوٓاْ إِذَا تَبَايَعۡتُمۡۚ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٞ
وَلَا شَهِيدٞۚ وَإِن تَفۡعَلُواْ فَإِنَّهُۥ فُسُوقُۢ بِكُمۡۗ وَٱتَّقُواْ
ٱللَّهَۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٢٨٢﴾

۲۸۲. اے هغو کسانو چې ایمان مو راوړے دے هر کله چې تاسو تر یوې ټاکلې شوې نیټې پورې د یو بل قرضدار شوئ (د پور لین دین کوئ) نو هغه لیکئ او ستاسو تر منیځ دې یو لیکوال په انصاف سره لیکل وکړي او لیکوال دې له لیکلو انکار نه کوي (څکه چې) لکه څنګه چې خدای هغه ته ښوونه کړې ده باید ودې لیکي او د چا په غاړه چې حق دے (پور اخستونکے) دغه لیک املا کړے او د خپل پالونکي خدایه دې وویرېږي او له هغې دې څه څیز نه کموي. نو د چا په غاړه چې حق دے که هغه کم عقل یا کمزورے (ماشوم) وي یا ورته املاء نشي ویلې نو د هغه واکدار (ولي) دې په انصاف سره املاء ووایي (بیان دې کړي) او له سړیو نه دوه کسان پرې ګواهان ونیسئ او که دوه سړي نه وو نو یو سړے او دوه ښځې. هغه ګواهان چې تاسو ترې راضي یئ. څکه چې که له یوې (دا ګواهي) هېره شي نو بله به یې ورياده کړي او کله چې ګواهان راوبلل شي نو انکار دې نه کوي. که معامله وړه وي او که لویه د هغې د نیټې په لیکلو مه ستړي کیږئ (مه ستومانه کیږئ). دا طریقه د خدای په نږد ښه انصافي او د ګواهی لپاره مضبوطه او نه شکمنیدو ته زیاته نږدې طریقه ده خو که نغد (لاس په لاس) تجارت وي او په خپلو کښې یې کوئ نو تاسو ته څه ګناد نیشته چې ویې نه لیکئ او د تجارت (پلورلو) په وخت ګواهان نیسئ او لیکوال او ګواه ته باید زیان ونه رسیږي او که داسې مو وکړل نو دا ستاسو نافرماني ده او له خدایه وویرېږئ او خدای تاسو ته ښوونه کوي (ازمایي مو) او خدای په هر څه پاندې ښه پوه دے.

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

۞ وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا۟ كَاتِبًا فَرِهَٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ ۖ
فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُم بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ ٱلَّذِى ٱؤْتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلْيَتَّقِ
ٱللَّهَ رَبَّهُۥ ۗ وَلَا تَكْتُمُوا۟ ٱلشَّهَٰدَةَ ۚ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُۥٓ
ءَاثِمٌ قَلْبُهُۥ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿۲۸۳﴾ لِّلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَإِن تُبْدُوا۟ مَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ
يُحَاسِبْكُم بِهِ ٱللَّهُ ۖ فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۗ
وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿۲۸۴﴾ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ
مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ
وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦ ۚ وَقَالُوا۟
سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿۲۸۵﴾ لَا يُكَلِّفُ
ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْ ۗ
رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ
عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا
وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ ۖ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا
وَٱرْحَمْنَآ ۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿۲۸۶﴾

۲۸۳. او که تاسو په سفر کښې وئ او لیکوال مو ونه موند نو ګانه دې واخستې شي او که له تاسو نه څینو په څینو اعتبار وکړ (او په معامله کښې مو امین وګاڼه) نو څوک چې امین ګڼلې شوے دے. امانت دې پوره پوره ادا کړي او د خپل پالونکي خدایه دې ووېرېږي او ګواهي مه پټوئ او چا چې ګواهي پټه کړه نو پوه شه چې د هغه زړه ګنهګار دے او خدای ستاسو په کارونو ښه پوه دے.

۲۸۴. په ځمکه آسمانونو کښې چې څه دي ټول یوازې د خدای دي او څه چې مو په زړه که هغه ښکاره کړئ یا یې پټ کړئ خدای به درسره د هغې مطابق حساب کوي[1] نو هر چا ته چې وغواړي (او وړ یې وګڼي) بخښنه کوي او هر چا ته چې وغواړي عذاب ورکوي او خدای په هر څه باندې قدرت لري.

۲۸۵. پیغمبر په هغه څه چې د خدای له طرفه ورته راغلي دي ایمان راوړے دے او ټولو مؤمنانو هم په خدای او د هغه په پرښتو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو ایمان راوړےدے (او وایي چې مونږ) د هغه په پیغمبرانو کښې په یو کښې هم فرق نه کوو او ویې ویل: دا مو واورېدل او قبول مو کړل (ستا پیروي مو وکړه) خدایه ستا بخښنه غواړو او (اخر) هم تا ته درتلل دي.

۲۸۲. خداي هیچا ته د هغه ته وسه زیات تکلیف نه ورکوي چا چې څه (نیکي) وکړه (ثواب یې) د هغه لپاره دے او چا چې څه (بدي) وکړه (د هغې سزا) د هغه لپاره ده. اے زمونږ ربه: که زمونږ نه (څه) هېر شي یا تېروتنه وکړو نو مونږ پرې مه نیسه. اے زمونږ ربه! په مونږ باندې هغومره ګران بار مه اچوه لکه چې زمونږ نه په وړاندې خلکو دې اچولے ؤ. اے زمونږ ربه! د څه توان چې نه لرو هغه (بار) راته مه په سروه او له مونږ تېر شه او مونږ ته بخښنه وکړه او په مونږ رحم وکړه ته زمونږ مولیٰ (مالک) یې نو له مونږ سره د کافرانو په مقابله کښې مرسته وکړه (او په هغوي مو غالب کړه).

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

---

۱. یعنې خدای پاک ستاسو نیتونه هم حسابوي د قرینې نه دا معلومیږي چې دلته ترې بد نیتونه مراد دي او چې څوک په دې بد نیت عمل ونه کړي نو خدای هغه بخښي او د هغه لپاره څه ګناه نه لیکي خو که ویې کړي نو ګناهګار دے. د اخلاق عالمان دا وایي چې که یو سړے د یو بدکار نیت وکړي خو د خدای نه ووېرېږي او هغه کار پرېږدي نو خدا د هغه لپاره ثواب لیکي او که د بل څه څنډ له وجې یې پرېږدي نو هغه لپاره لیکل کیږي

# سُورَةُ آلِ عِمۡرَانَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ﴿۱﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ ﴿۲﴾ نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ
بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ﴿۳﴾ مِن
قَبۡلُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلۡفُرۡقَانَۗ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿۴﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ
عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴿۵﴾ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ
فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿۶﴾ هُوَ
ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ
ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ
مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ
إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ
رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿۷﴾ رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ
إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ﴿۸﴾ رَبَّنَآ
إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ﴿۹﴾

**۳ سوره ال عمران ۲۰۰ ایتونه – مدني**

د بخښونکي ډېر مهربان خدای په نامه (شورو کوم)

۱. الف، لام، میم
۲. الله، چې بې له هغه بل خدای (د عبادت لائق) نیشته، تل ژوندے دے (د عالمینو د نظام) قائموونکے دے.
۳. دا کتاب یې چې د مخکښنیو کتابونو تصدیق کوي. په حقه په تا نازل کړ او تورات او انجیل یې نازل کړي دي
۴. وړاندې له دې د خلکو د هدایت لپاره او فرقان (قرآن، د حق او باطل جدا کوونکے) یې رالیږلے دے هغه کسان چې د خدای له آیتونو یې انکار کړے دے هغوي لره سخت عذاب دے او خدای ډېر غالب او غچ (انتقام) اخستونکے دے.
۵. په ځمکه او آسمان کښې هیڅ څیز له خدایه پټ نه دے.
۶. (خدای) هماغه (ذات) دے چې څنګه یې خوښه وي هم هغسې ستاسو انځورونه (تصویرونه) د میندو په ګیډه کښې جوړوي بې له هغه بل خدای نیشته چې ډېر غالب او د حکمت خاوند دے
۷. هغه (خداي) هغه (ذات) دے چې په تا باندې یې کتاب (قرآن) نازل کړ ځینې آیتونه پکښې محکم[1] دي چې دا د کتاب اصل دي او نور متشابه[2] (آیتونه) دي نو د چا په زړه کښې چې کوږوالې دے هغوي د فتنې جوړولو او تاویل[3] لپاره د هغو آیتونو پیروي کوي چې متشابه وي په داسې حال کښې چې د هغې په تاویل بې له خدایه نور څوک نه پوهیږي[4] او څوک چې پاخه عالمان دي هغوي وایي: مونږ په دې ایمان راوړےدے دا ټول زمونږ د رب له طرفه دي او یوازې هوښیاران سبق (پند) اخلي نه نور.
۸. (او وایي) اے زمونږ ربه! زمونږ زړونه له دې وروسته چې تا هدایت کړل مه کږوه او مونږ ته له خپله نزده رحمتونه راکړه ځکه چې یوازې هم ته ښه بخښونکے یې.
۹. اے زمونږ ربه! ته په هغه ورځ د خلکو راغونډوونکے یې چې هیڅ شک پکښې نیشته (بیشکه چې) الله هیڅ کله د خپلې وعدې خلاف نه کوي

---

۱. هغه آیتونه چې معنی یې روښانه ده او د ډېرو معنو اخستلو امکان پکښې نه وي.
۲. هغه آیتونه چې د ډېرو معنو اخستلو امکان ترې وي او هر څوک ترې ځانته یوه معنی اخلي
۳. تاویل د بیرته ګرځولو په معنی دے دلته ترې مراد د آیت د نازلیدو وخت (شان نزول) او د آیت نتیجه ده. تفسیر دې ته وایي چې د یو ټکي معنی روښانه وي خو تاویل دې ته وایي چې له یو ټکي نه څرګنده معنی وانه خستې شي بلکه هغه احتمالي معنی چې ممکن وي ترې مراد واخستل شي لکه دا آیت یُخْرِجُ الحَيَّ مِنَ المَيِّتِ که مراد یې د هګۍ د بچي راویستل وي نو دا تفسیر دے او که مراد ترې له کافره مؤمن راوباستل وي نو دا تاویل دے
۴. دلته که دا «واو» عاطفه ونیسو نو معنی یې داسې کیږي: د هغې په معنی یې له خدایه او یې له هغه کسانو چې ...

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم
مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ وَقُودُ ٱلنَّارِ ﴿١٠﴾ كَدَأۡبِ ءَالِ
فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ
بِذُنُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿١١﴾ قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ
سَتُغۡلَبُونَ وَتُحۡشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٢﴾
قَدۡ كَانَ لَكُمۡ ءَايَةٞ فِي فِئَتَيۡنِ ٱلۡتَقَتَاۖ فِئَةٞ تُقَٰتِلُ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَأُخۡرَىٰ كَافِرَةٞ يَرَوۡنَهُم مِّثۡلَيۡهِمۡ رَأۡيَ
ٱلۡعَيۡنِۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصۡرِهِۦ مَن يَشَآءُۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿١٣﴾ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ
مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ
وَٱلۡفِضَّةِ وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ
مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ ﴿١٤﴾ ۞ قُلۡ
أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيۡرٖ مِّن ذَٰلِكُمۡۖ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ عِندَ رَبِّهِمۡ
جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزۡوَٰجٞ
مُّطَهَّرَةٞ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿١٥﴾

۱۰. چا چې کفر کړے دے د هغوي مالونه او اولاد به هغوي ته د خداى (د عذاب) په مقابله هيڅ ګټه ورنکړي (د خداى عذاب به ترې لرې نکړے شي) او همدا کسان د دوزخ خشاک (خس) دي.

۱۱. (چا چې کفر کړے دے د هغوي حال به داسې وي) لکه د فرعونيانو او د هغه کسانو چې تر هغوي مخکښې وو چې زمونږ آيتونه يې دروغ وګڼل نو خداى هغوي په خپلو ګناهونو راونيول او خداى په عذاب ورکولو کښې ډېر سخت دے.

۱۲. کومو کسانو چې کفر کړے دے هغوي ته ووايه: تاسو به ډېر زر مغلوب (وځپل) شئ او دوزخ ته به غونډ کړې شئ او دوزخ ډېره بده ټکاونه ده.

۱۳. په يقين سره ستاسو لپاره په هغه دوه ټوليو کښې چې (په جنګ بدر کښې) سره مخامخ شول يوه نښانه (عبرت) ؤ يو ټولے د خداى په لار کښې جنګيدۀ او بل ټولے کافر ؤ چې هغوي به مؤمنان په ظاهره (د سترګو په ليد کښې) دوه چنده ليدل او خداى چې د چا وغواړي په خپلې مرستې سره يې تائيد کوي. بېشکه چې په دې (پېښې کښې د سترګورو لپاره عبرت دے.

۱۴. د خلکو لپاره له نفساني خواهشونو سره مينه کول ښائسته کړې شوي دي (لکه) ښځې او ځامن او د سرو او سپينو زرو ډېر شوې همياني او ښاندار اسونه او څاروي او پټي (کښت) دي. دا د دنيا د ژوند سازو سامان دے او د ورتللو ښه ځاي (جنت) خو له خداى سره دے.

۱۵. ووايه: تاسو ته تر دې ښه څيزونه وښيم؟ څوک چې پرهيزګار دي د هغوي لپاره د خپل پروردګار په نزد داسې باغونه دي چې (تر ونو) لاندې يې ويالې بهيږي. تل به په هغو کښې وي او (پکښې) پاکيزه جوړې او د خداى رضا ده او خداى د خپلو بندګانو (د حال) ښه ليدونکے دے.

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

۱. چې په علم کښې پخه دي بل څوک نه پوهيږي خو دلته مطلب دا دے چې خداى په هر څه باندې استقلالي علم لري يعنې په خپل علم کښې چا ته محتاج نه دے او نورو مخلوقاتو ته چې څومره وغواړي علم ورکوي لکه بيلا بيلو مجودا تو ته يې څه نه څه علم ورکړے دے نو مطلب دا شو چې بې له الله پرې څوک علم استقلالي نه لري

ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا
وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٦﴾ ٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلۡقَٰنِتِينَ
وَٱلۡمُنفِقِينَ وَٱلۡمُسۡتَغۡفِرِينَ بِٱلۡأَسۡحَارِ ﴿١٧﴾ شَهِدَ ٱللَّهُ
أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا
بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٨﴾ إِنَّ ٱلدِّينَ
عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ وَمَا ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ
إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ وَمَن يَكۡفُرۡ
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿١٩﴾ فَإِنۡ حَآجُّوكَ
فَقُلۡ أَسۡلَمۡتُ وَجۡهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِۗ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسۡلَمۡتُمۡۚ فَإِنۡ أَسۡلَمُواْ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ
وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٢٠﴾
إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ
بِغَيۡرِ حَقّٖ وَيَقۡتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡقِسۡطِ مِنَ
ٱلنَّاسِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتۡ
أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٢﴾

۱۶. هغه (کسان) چې وايي: اے زمونږ ربه! مونږ ايمان راوړے دے نو زمونږ ګناهونه راوبخښه او د اور له عذابه مو وساته.
۱۷. هغوي صابران او رېښتيني او فرمانبردار (حکم منونکي) او خيرات کوونکي او د سحر په مهال بخښنې غوښتونکي دي.
۱۸. خداي ګواهي ورکوي چې بې له خدايه بل معبود (لائق د عبادت) نشته او پرښتې او د علم خاوندان هم (پدې ګواه دي) (هغه خداي) چې په انصاف ټينګ ولاړ دے بې له هغه بل معبود نيشته هغه ښه غالب او د ښه حکمت څښتن دے.
۱۹. د خداى په نزد (مقبول) دين، يوازې اسلام دے او کومو کسانو ته چې کتاب ورکړے شوے دے (عسايان او يهوديان) هغوي اختلاف نه دے کړے خو وروسته له دې چې علم ورته ورکړے شو ځکه چې په خپلو کښې يې ضد بازي وه او څوک چې د خداى له آيتونو انکار وکړي نو خداى (هم) په حساب کښې ډېر تيز دے.[1]
۲۰. که له تا سره بحث وکړي نو ووايه: ما او زما ملګرو (لارويانو) خداى ته غاړه اېښې ده او هغه کسانو ته چې کتاب مو ورکړے دے او اُميانو (بې کتابه. جاهل مشرک) خلکو ته ووايه: آيا تاسو هم غاړه اېښې ده؟ که غاړه يې اېښې وه نو سمه لار يې موندلې ده او که مخ يې واړوۀ نو ستا کار يوازې (د حق آواز) رسول ۀ او خداى د بندګانو ښه ليدونکے دے.
۲۱. څوک چې د خداى له آيتونو انکار کوي او په ناحقه پيغمبران وژني او هغه څوک (هم) وژني چې خلکو ته د عدل (او انصاف) کولو حکم ورکوي نو هغوي ته د دردمن عذاب زيرے ورکړه.
۲۲. دا هغه کسان دي چې په دنيا او آخرت (دواړو) کښې يې عملونه عبث لاړل (تباه شول) او دوي لره هيڅوک مددګار نيشته.

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

---

۱. مطلب يې دا دے چې حساب کتاب ډېر زر کولے شي. د دې آيت دوه معنې شوې دي يوه دا چې د بندګانو سزا او جزا زر حسابوي دويمه دا چې د قيامت په ورځ به د ټولو حساب ډېر زر کوي او د يو کس حساب به يې د بل له حسابه نه وروسته کوي ځکه چې خداى بدن نلري که داسې نه وے نو د دوو کسانو حساب په يو وخت ممکن نه ۀ

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَـٰبِ
ٱللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ۖ
وَغَرَّهُمْ فِى دِينِهِم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَـٰهُمْ
لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ
لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾ قُلِ ٱللَّهُمَّ مَـٰلِكَ ٱلْمُلْكِ تُؤْتِى ٱلْمُلْكَ مَن
تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن
تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٦﴾ تُولِجُ ٱلَّيْلَ
فِى ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ ۖ وَتُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ
وَتُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ ۖ وَتَرْزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾
لَّا يَتَّخِذِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْكَـٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ
وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ ٱللَّهِ فِى شَىْءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُوا۟ مِنْهُمْ
تُقَىٰةً ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨﴾ قُلْ
إِن تُخْفُوا۟ مَا فِى صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ ٱللَّهُ ۗ وَيَعْلَمُ
مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾

۲۳. آیا هغو کسانو ته نه گورې چې له کتابه (توراته) څه برخه (علم) هغوي ته ورکړے شوے دے کله چې هغوي د الله کتاب ته د دې لپاره وبلل شي چې ترمينځ يې فيصله (حکم) وکړي. نو له دوي څخه يوه ډله ترې مخ واړوي په داسې حال کښې چې (د خداى له حکمه) مخ اړوونکي دي؟

۲۴. دا ځکه چې دوي وايي: مونږ ته به بې له څو ورځو (د دوزخ) اور راونه رسيږي او دوي په خپل دين کښې هغه دروغو غره کړي دي (غولولي دي) چې (په دين پورې) به يې تړل

۲۵. نو څنگه حال (چل) به وي کله چې مونږ دوي په هغه ورځ، چې په راتللو کښې يې څه شک نيشته. راټول کړو او هر کس ته به د هغه د عمل پوره پوره بدله ورکړے شي او له هغوي سره به (ظلم) زياتے نه کيږي.

۲۶. ووايه اے خدايه! د پاچاهۍ واکداره: چا ته چې وغواړې پاچاهي (سلطنت) ورکوې او له چا چې وغواړې پاچاهي اخلې نو چاته چې وغواړې عزت ورکړې او څوک چې وغواړې ذليل يې کړے. ټول خير ستا په لاس کښې دے بيشکه چې ته په هر څه قدرت لرې.

۲۷. شپه په ورځ کښې ننه باسې او ورځ په شپې کښې[۱]. د مړي نه ژوندے وباسې او د ژوندي نه مړے او چا ته چې وغواړې بې حسابه روزي ورکوې.

۲۸. مؤمنان دې هيڅرې د مؤمنانو په ځاى کافران خپل ملگري نه جوړوي او چا چې دا کار وکړ نو له خداى سره يې هيڅ تعلق (او دوستي) پاتې نه شوه خو که د دې لپاره (ورسره ملگرتيا کوئ) چې (ځان) د تقيې په وجه (د هغوي له دښمنۍ) وساتئ (نو خير دے) او خداى تاسو د خپل ځان (له نافرمانۍ) ويروي او (آخر) هم هغه ته ورتلل دي.

۲۹. ووايه: که تاسو د خپل زړه خبره پټه کړئ او که څرگنده يې کړئ هغه خداى ته معلومه دد او څه چې په اسمانونو او ځمکه کښې دي هغه ته معلوم دي او خداى په هر شي ښه قدرت لري

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

۱ دې ته اشاره ده چې خداى په کال کښې شپه او ورځ لنډه وي او اوږده وي چې په نتيجه کښې يې څلور موسمونه بدليږي او د کښت او ميوو په رسيدلو کښې ډيره گټه لري او همدارنگ د ځناورو او انسانانو په ودې او روزنې کښې هم لاس لري

يَوۡمَ تَجِدُ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ مِنۡ خَيۡرٖ مُّحۡضَرٗا وَمَا عَمِلَتۡ

مِن سُوٓءٖ تَوَدُّ لَوۡ أَنَّ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَهُۥٓ أَمَدَۢا بَعِيدٗاۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ

نَفۡسَهُۥۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٣٠﴾ قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ

فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ

رَّحِيمٞ ﴿٣١﴾ قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ

ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٢﴾ ۞إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحٗا وَءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ

وَءَالَ عِمۡرَٰنَ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٣٣﴾ ذُرِّيَّةَۢ بَعۡضُهَا مِنۢ بَعۡضٖۗ وَٱللَّهُ

سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ إِذۡ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ عِمۡرَٰنَ رَبِّ إِنِّي نَذَرۡتُ لَكَ

مَا فِي بَطۡنِي مُحَرَّرٗا فَتَقَبَّلۡ مِنِّيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٣٥﴾

فَلَمَّا وَضَعَتۡهَا قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي وَضَعۡتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا وَضَعَتۡ

وَلَيۡسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلۡأُنثَىٰۖ وَإِنِّي سَمَّيۡتُهَا مَرۡيَمَ وَإِنِّيٓ أُعِيذُهَا بِكَ

وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ

حَسَنٖ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنٗا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّاۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيۡهَا

زَكَرِيَّا ٱلۡمِحۡرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزۡقٗاۖ قَالَ يَٰمَرۡيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَاۖ

قَالَتۡ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

۳۰. هغه ورځ چې هر کس به پکښې خپل نیک عملونه حاضر وموميي او کوم بد عملونه يې چې کړي دي آرمان به کوي چې کاش د هغه او د دغې (بد عمل) تر مينځ يې لوي واټن (فاصله) وې او خدای تاسو د خپل ځان (له نافرمانۍ) ويروي او خدای په خپلو بندګانو ډېر مهربان دے.

۳۱. ووايه که تاسو (په رښتيا) له خدای سره مينه لرئ نو زما متابعت (پيروي) وکړئ چې خدای هم له تاسو سره مينه وکړي او ستاسو ګناهونه وبخښي او الله بخښونکے مهربان دے.

۳۲. ووايه: د خدای او پيغمبر پيروي کوئ (حکم يې منئ) نو که دوي ترې وګرځيدل (حکم يې ونه مانه) نو الله کافران (حکم نه منونکي) نه خوښوي.

۳۳. بيشکه چې خدای آدم او نوح او د ابراهيم اولاد اود عمران اولاد پر عالمينو غوره کړے دے.

۳۴. په داسې حال کښې چې ځينې د ځينو اولاد دے او خدای ښه اوريدونکے ښه عالم دے.

۳۵. (ياد کړه هغه وخت) کله چې د عمران ميرمنې ووېل: اے زما ربه زۀ د هغې (ماشوم) چې زما په خېټه کښې دے ستا لپاره د آزادۍ منخته (نذر) کوم (چې د دنيا له تعلقاتو به آزاد وي او ستا د در خدمتګزار به وي) نو له ما يې قبول کړه بيشکه چې هم دا ته ښه اوريدونکے ښه عالم يې.

۳۶. نو کله چې يې وزيږوله. ويې ويل: اے زما پروردګاره دا خو مې ښځينه (جينۍ) وزيږوله! او خدای ښه پوه دے چې څه يې وزيږول او نارينه د ښځينه په شان نه دے[1] او ما د دې نوم، مريم کيښوده او زۀ هغه او د هغې اولاد د شړلي شوي شيطان (د شر) نه ستا په پناه کښې درکوم

۳۷. نو د هغې خدای هغه (مريم) په ښه شان سره قبوله او ډېره نيکه يې لويه کړه او زکريا يې د هغې کفيل (سرپرست)، وګرځاوۀ هر کله چې به زکريا (د هغې) محراب (د لمانځه ځاي) ته ننوت. نو له هغې سره به يې روزي وموندله (بې موسمه ميوې به يې وليدې) ويې ويل: اے مريم! دا درته له کومه ځايه (راغلي دي)؛ هغې ووېل: دا د الله له طرفه ده. بيشکه چې خدای چې چا ته وغواړي بې حسابه روزي ورکوي.

۱. يعنې هغه زوے چې هغې د زيږيدو هيله لرله د دې لور په شان نه دے ځکه چې دا لور (مريم) ترې غوره ده

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥ ۖ قَالَ رَبِّ هَبْ لِى مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً
طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾ فَنَادَتْهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ
يُصَلِّى فِى ٱلْمِحْرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ
مِّنَ ٱللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٣٩﴾ قَالَ رَبِّ
أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَقَدْ بَلَغَنِىَ ٱلْكِبَرُ وَٱمْرَأَتِى عَاقِرٌ ۖ قَالَ
كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿٤٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّىٓ ءَايَةً ۖ
قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا ۗ وَٱذْكُر
رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٤١﴾ وَإِذْ قَالَتِ
ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ وَٱصْطَفَىٰكِ
عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٢﴾ يَٰمَرْيَمُ ٱقْنُتِى لِرَبِّكِ وَٱسْجُدِى
وَٱرْكَعِى مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۚ
وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَٰمَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ
وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾ إِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ
يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ٱسْمُهُ ٱلْمَسِيحُ عِيسَى
ٱبْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ وَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾

۳۸. په د غه وخت کښې زکريا له خدايه دعا وغوښته، ويې ويل: اے زما ربه! ما ته له خپل دره ښه پاکيزه اولاد[1] راوبخښه (راکړه)، بيشکه چې ته د دعا ښه اوريدونکے يې.

۳۹. نو په داسې حال کښې چې هغه په محراب (د لمانځه ځاي، کښې په لمانځه ولاړ ؤ، پرښتو ورته غږ وکړ: خداى تا ته د يحيیٰ (د زيږيدو) زيرے درکوي. چې د خداى د کلمې (حضرت عيسیٰ) تصديق کوونکے او سردار او (له شهوتونو) ځان ساتونکے او له صالحانو څخه به نبي وي.

۴۰. ويې ويل: پروردګاره! څنګه به زما زوے (پيدا) شي په داسې حال کښې چې زۀ زوړ يم او ښځه مې شنډه ده. ويې ويل: (خبره) همدارنګ ده چې څه الله وغواړي هغه کوي.

۴۱. ويې ويل: پيپالونکيه! ما ته يوه نښه راکړه. ويې ويل ستا نښه دا ده چې درې ورځې به له خلکو سره خبرې نه کوې مګر په اشارې سره او خپل رب ډېر ياد کړه او سهار او ماښام د هغه تسبيح کوه.

۴۲. او کله چې پرښتو وويل: اے مريم! ته خداى غوره کړې يې او پاکه کړې يې او د عالمينو په ښځو کښې يې ته غوره کړې يې.

۴۳. اے مريم: د خپل رب فرمانبرداره شه او سجده کوه او له رکوع کوونکيو سره رکوع وکړه.

۴۴. دا د غيبو خبرونه دي چې تا ته يې وحي کوو او هغه وخت ته له هغوي سره نه وې کله چې يې خپل قلمونه د دې لپاره (اوبو ته) وغورځول (قرعه يې وکړه)، چې څوک دې د مريم سرپرست شي او ته ورسره هغه وخت هم نه وې چې کله يې (د مريم د سرپرستۍ لپاره) په خپلو کښې لانجه کوله.

۴۵. (او ياد کړه هغه وخت) کله چې پرښتو وويل: اے مريم! خداى تا ته د خپلې کلمې چې نوم يې مسيح د مريم زوے عيسیٰ دے. زيرے درکوي، په داسې حال کښې چې په دې دنيا او په آخرت دواړو کښې عزتمن او (د خداي) له مقربينو (نږدو کسانو) څخه دے.

[1] ذُرِّيَه هم يو تن ته وايي او هم ډېرو ته

وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾
قَالَتۡ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكِ
ٱللَّهُ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ
﴿٤٧﴾ وَيُعَلِّمُهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ
﴿٤٨﴾ وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن
رَّبِّكُمۡ أَنِّيٓ أَخۡلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ فَأَنفُخُ
فِيهِ فَيَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ وَأُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ
وَأُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأۡكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ
فِي بُيُوتِكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٤٩﴾
وَمُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم
بَعۡضَ ٱلَّذِي حُرِّمَ عَلَيۡكُمۡۚ وَجِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ
فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾ إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ
هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٥١﴾ ۞ فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنۡهُمُ
ٱلۡكُفۡرَ قَالَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ
أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٥٢﴾

۴۶. او له خلکو سره به په زانګو او پوخ عمر (کهولت) کښې خبرې کوي او له نېکانو څخه به وي

۴۷. مریم وویل: اے زما ربه! زما به څرنګ زوے کیږي په داسې حال کښې چې ما ته خو یو سړي هم لاس نه دے راوړے؟ ویې ویل: همداسې ده خدای چې څه وغواړي هغه پیدا کوي. کله چې د یو کار اراده وکړي نو ورته ووايي چې وشه نو هغه وشي.

۴۸. او هغه ته (خدای) کتاب او حکمت[1] او تورات او انجیل ورزده کوي

۴۹. او بني اسرائیلو ته (به د) رسول (په شکل راشي او ورته به وايي،) ما تاسو ته ستاسو د خدای له طرفه یو نښانه راوړې ده. زۀ تاسو ته د خټې نه مارغه شان جوړوم بیا پکښې پوکوم نو د خدای په حکم به هغه مارغه شي او مورزادے (پیدائشي) ړوند او برګ (جذامي) روغوم او د خدای په حکم مړي ژوندي کوم او تاسو له هغه څه خبرولې شم چې تاسو یې خورئ او له هغه څه چې په کورونو کښې یې ساتئ (ذخیره کوئ) بیشکه که تاسو مؤمنان یئ نو په دې کښې ستاسو لپاره نښانه ده.

۵۰. او (عیسی به وایي: د دې لپاره راغلے یم چې) زما په وړاندې چې کوم تورات دے د هغې تصدیق کوم او د دې لپاره چې ځینې حرام شوي څیزونه درته حلال کړم او تاسو ته ستاسو د خدای له طرفه له نښانې سره راغلے یم نو له خدای ووېرېږئ او زما (خبرې) ومنئ.

۵۱. بیشکه چې خدای زما او ستا رب (پالونکے) دے نو د هغه عبادت وکړئ. همدا نیغه لاره ده.

۵۲. نو هر کله چې عیسی له هغوي (بني اسرائیلو) کفر محسوس کړ نو ویې ویل: د خدای په لار کښې زما مرستیالان (مددګار) څوک دي؟ حواریونو (د هغه خاص شاګردانو) وویل: مونږ د خدای (د دین) مرستیالان یو په خدای مو ایمان راوړے دے او ته ګواه اوسه چې مونږ (د خدای حکمونو ته) غاړه ایښے ده

پرتال جامع علوم انسانی

---

۱ حکمت: هغه څه علم چې انسان ورسره حق له باطله جلا کوي نه عمل او خبره له بدې پیژني او هر هغه څه چې انسان له تباهی او فساده منعې کوي

رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ
ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٣﴾ وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ
﴿٥٤﴾ إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ
مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوۡقَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأَحۡكُمُ
بَيۡنَكُمۡ فِيمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿٥٥﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
فَأُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم
مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٥٦﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٧﴾ ذَٰلِكَ نَتۡلُوهُ
عَلَيۡكَ مِنَ ٱلۡأٓيَٰتِ وَٱلذِّكۡرِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٥٨﴾ إِنَّ مَثَلَ
عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٖ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ
كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ
﴿٦٠﴾ فَمَنۡ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ فَقُلۡ تَعَالَوۡاْ
نَدۡعُ أَبۡنَآءَنَا وَأَبۡنَآءَكُمۡ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمۡ وَأَنفُسَنَا
وَأَنفُسَكُمۡ ثُمَّ نَبۡتَهِلۡ فَنَجۡعَل لَّعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦١﴾

۵۳. اے زمونږ ربه! مونږ په هغه څه ایمان راوړے دے چې تا نازل کړي دي او ستا د (دې) رسول پیروي مو کړې ده نو مونږ په ګواهانو کښې ولیکه (چې د رسولانو د رسالت ګواهي مو ورکړې ده).

۵۴. او (یهودیانو د عیسیٰ په خلاف، مکر (چل) وکړ. او خدای هم (د هغوي د سزا) چل جوړ کړ او خدای له ټولو ښه چل جوړونکے دے.

۵۵. او (یاد کړه هغه وخت) کله چې خدای وفرمایل: اے عیسیٰ! زهٔ ستا اخستونکے او ځان طرف ته پورته کوونکے یم او د کافرانو (له تهمته) نه ستا پاکوونکے یم او ستا پیروي کوونکي به تر قیامته پر کافرانو بر کړم بیا ستاسو د ټولو راتګ یوازې ما ته دے نو (خداي به) ستاسو تر مینځ په هغه څه کښې چې اختلاف مو پکښې کاوه، حکم وکړي.

۵۶. نو څوک چې کافران شوي دي هغوي ته به په دنیا او آخرت کښې سخت عذاب ورکوم او هیڅوک به د دوي مددګار نه وي.

۵۷. او هر چا چې ایمان راوړے دے او نیک کارونه یې کړي دي نو (خداي) به هغوي ته پوره پوره اجر ورکړي او الله ظالمان نه خوښوي.

۵۸. دا کوم څه چې پر تا لولو (د ذکریا، یحیی، مریم او عیسیٰ کیسې) دا (د الله خبرې او ستا د رسالت د رښتیاوالي) نښانې دي او د حکمت نه ډکې تذکرې (پندونه او نصیحتونه) دي.

۵۹. بیشکه د عیسیٰ مثال د خدای په نزد د آدم په شان دے هغه یې له خاورې پیدا کړ بیا یې ورته ویل: (موجود) شه نو هغه (موجود) شو.

۶۰. دا حق (خبره) له خدایه ده نو شکمن کیږه مه.

۶۱. نو څوک چې له تا سره په دې (مسئله کښې تا ته د علم له راتللو نه پس هم، بحث (جګړه) وکړي نو ووایه راشئ مونږ خپل زامن او تاسو خپل زامن، مونږ خپلې ښځې او تاسو خپلې ښځې مونږ خپل نفسونه (چې زمونږ د ځان په ځاي دي) او تاسو خپل نفسونه. راوبولو بیا (خداي ته) دعا او زاري وکړو او په دروغجنو به د خدای لعنت وکړو[1].

---

۱. دې آیت ته د دې دعا او زارۍ په وجه مباهله ویلې شوې دي. مباهله یوه داسې طریقه وه چې ورسره به یې ځان حق ثابتاوۀ. دا مباهله له عیسایانو سره د خدای په حکم د دې لپاره وه چې عیسیٰ(ع) په خدایۍ ونه منې او د پیغمبر(ص) رسالت ورسره ثابت کړي. کله چې دا آیت نازل شو نو رسول الله د نجران مشرانو ته د مباهلې بلنه ورکړه چې رښتني او دروغجن جلا جلا شي او عیسایان په دې راضي شول او ځاي او وخت یې وټاکه. هغه ورځ پیغمبر(ص) خپلو اهلبیتو، علي، فاطمه، حسن او حسین علیهم السلام سره چې ورته نږدې او ورباندې ګران وو، راووتۀ او ویې فرمایل کله چې زهٔ دعا کوم تاسو آمین ووایئ خو عیسایان له لږ فکره وروسته له مباهلې پښېمانه شول او خپله صلاح یې په هم دې کښې ولیده چې وروسته شي. ځکه چې د هغوي یو مشر چې کله ولیدل چې پیغمبر خو له ځان سره خپل نږدې کسان اهلبیت راوستي دي نو ویې ویل له دوي سره له مباهلې

پرتال جامع علوم انسانی

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡقَصَصُ ٱلۡحَقُّۚ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ
ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُفۡسِدِينَ
﴿٦٣﴾ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا
وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ
بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ
بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٦٤﴾ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ
وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوۡرَىٰةُ وَٱلۡإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ
﴿٦٥﴾ هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجۡتُمۡ فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ فَلِمَ
تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ
لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ إِبۡرَٰهِيمُ يَهُودِيّٗا وَلَا نَصۡرَانِيّٗا
وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفٗا مُّسۡلِمٗا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٦٧﴾
إِنَّ أَوۡلَى ٱلنَّاسِ بِإِبۡرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا ٱلنَّبِيُّ وَٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْۗ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٨﴾ وَدَّت طَّآئِفَةٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ
لَوۡ يُضِلُّونَكُمۡ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ﴿٦٩﴾ يَٰٓأَهۡلَ
ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ﴿٧٠﴾

۶۲. بیشکه چې دا ریښتنې کیسې دي او بې له خدایه بل معبود نشته او بیشکه چې هماغه الله ډېر غالب او ښه حکمت والا دے.

۶۳. نو که دوي (له ایمانه) مخ وګرځاوُ نو خدای د فسادیانو (په حال) ډېر ښه پوه دے.

۶۴. ووایه: اے اهل کتابو! یوې داسې کلمې (خبرې) ته راشئ چې زمونږ او ستاسو تر مینځ برابره (مشترکه) ده: (هغه دا) چې بې له خدایه به د بل چا عبادت نه کوو او له هغه سره به (په عبادت کښې) هیڅ څیز نه شریکوو او بې له خدایه به له مونږ ځینې. ځینې نور په خدایۍ نه نیسو نو که دوي (له ایمانه) مخ وګرځاوُ نو (ورته) ووایئ ګواه اوسئ چې مونږ مسلمانان یو (خداي ته مو غاړه اینښې ده).

۶۵. اے اهل کتابو! د ابراهیم په هکله ولې بحث (جګړه) کوئ (او هر څوک یې په خپل دین ګڼئ) په داسې حال کښې چې تورات او انجیل خو تر هغه وروسته نازل شوي دي آیا نه پوهیږئ.

۶۶. هو! تاسو (اهل کتاب) هماغه کسان یئ چې په څه مو علم لرلو (د عیسیٰ په هکله) په هغې مو بحث وکړ نو په کوم څیز (حضرت ابراهیم) چې څه پوهه نه لرئ ولې پکښې بحث کوئ؟ او خدای پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ.

۶۷. ابراهیم نه یهودي وُ او نه نصراني بلکې حق غوارے (حنیف) مسلمان وُ او له مشرکانو څخه نه وُ.

۶۸. بیشکه چې ابراهیم ته تر ټولو نږدې هغه کسان دي چې د هغه پیروي یې وکړه اودا پیغمبر او هغه کسان چې (په دې پیغمبر) یې ایمان راوړے دے. او خدای د مؤمنانو ملګرے (سرپرست) دے.

۶۹. د اهل کتابو یو ټولے دا خوښوي (هیله لري) چې که تاسو ګمراه کړي خو هغوي یوازې خپل ځان ګمراه کوي او پوهیږي نه.

۷۰. اے اهل کتابو! د خدای له آیتونو (د پیغمبر د نبوت له نښانو) منکریږئ په داسې حال کښې چې په خپله ګواه یئ.

---

وویریږئ. قسم په خدای زۀ داسې مخونه وینم که دوي له خدایه وغواړي نو خدای غر هم له خپله ځایه خوځوي اوډ ځمکې په مخ به یو عیسایي هم پاتې نه شي نو صلح یې وکړه او کلنۍ جزیه یې ومنله

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ
وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٧١﴾ وَقَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ ءَامِنُواْ
بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَجۡهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكۡفُرُوٓاْ ءَاخِرَهُۥ
لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَا تُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمۡ قُلۡ إِنَّ
ٱلۡهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ أَن يُؤۡتَىٰٓ أَحَدٞ مِّثۡلَ مَآ أُوتِيتُمۡ أَوۡ يُحَآجُّوكُمۡ
عِندَ رَبِّكُمۡۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ
وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٧٣﴾ يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ
ٱلۡعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ ۞ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مَنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِقِنطَارٖ
يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِدِينَارٖ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ
إِلَّا مَا دُمۡتَ عَلَيۡهِ قَآئِمٗاۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَيۡسَ عَلَيۡنَا فِي
ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ سَبِيلٞ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ
﴿٧٥﴾ بَلَىٰۚ مَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ
﴿٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشۡتَرُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَأَيۡمَٰنِهِمۡ ثَمَنٗا قَلِيلًا
أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ
إِلَيۡهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٧٧﴾

۷۱. اے اهل کتابو حق ولې له باطلو سره ګډوئ (ګډوډوئ) او حق پټوئ په داسې حال کښې چې تاسو پوهېږئ.

۷۲. له اهل کتابو څخه یوۀ ټولي وویل: کوم څه چې په مؤمنانو نازل شوي دي په هغې باندې د ورځې په اول کښې (سهار) ایمان راوړئ او د ورځې په آخر (ماښام) ترې انکار وکړئ د دې لپاره چې دوي (له خپله دینه) وګرځي.

۷۳. او د خپل دین له منونکي پرته په بل چا باور مه کوئ. ووایه: بېشکه چې (حقیقي) هدایت د خدای هدایت دے. (دا د هغه ورکړه ده) (دا ګمان مه کوئ چې خدای به) بل چا ته هغه څۀ (اسماني کتاب) ورکړي چې کوم یې تاسو ته درکړي دي یا (هغوي دا توان ولري چې) د خدای په نږد تاسو سره بحث وکړي (او دلیل دربانديږ راوړي) بېشکه چې فضل (دین، نبوت، خپله قبله، نعمت یا زیاته ورکړه) د خدای په لاس کښې دے چا ته چې یې وغواړي ورکوي او خدای (په نعمتونو ورکولو کښې) پراخ او ښه پوه دے.

۷۴. او هر څوک چې وغواړي له خپل رحمت سره یې خاصوي او خدای د ډېر لوي فضل څښتن دے.

۷۵. په اهل کتابو کښې داسې (امانتدار) کس شته چې که ته ورسره د غوا څرمن د زرو ډکه (ډېر مال) امانت کېږدې نو تا ته یې بېرته درکوي او له هغوي څخه داسې (بې اعتباره هم) شته چې که هغه ته یو دینار هم امانت ورکړې نو تر هغه وخته یې نه درکوي تر څو چې ورته په سر نه یې ولاړ. دا ځکه چې دوي وویل: په مونږ باندې د اُمیانو څه لار (جرګه، د اعتراض حق) نیشته او سره د دې چې پوهېږي په خدای باندې دروغ وایي.

۷۶. ولې نه: هر څوک چې خپله وعده پوره کړي (امانتداري وکړي) او پرهېزګاري وکړي نو بېشکه چې خدای پرهېزګاران خوښوي.

۷۷. بېشکه هغه کسان چې د خدای وعده او خپل قسمونه په لږ قیمت خرڅوي[1] د هغوي لپاره په آخرت کښې څه برخه نشته او خدای به ورسره د قیامت په ورځ خبرې نه کوي او نه به ورته ګوري. او (ګناهونه به یې) نه پاکوي او د هغوي لپاره دردناک عذاب دے.

---

۱ یعنې هغه کسان چې خپله دا وعده چې په پیغمبر به ایمان راوړي او د هغه مرسته به کوي، یې ماته کړې ده او د هغې وعده په ځاې یې د دنیا لالچ لکه مشري، رشوت او نور څیزونه اخستي دي. رک ۲ حاشیه ۲۷۸مخ

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُۥنَ أَلْسِنَتَهُم بِٱلْكِتَٰبِ لِتَحْسَبُوهُ
مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ
عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ
وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٨﴾ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلْكِتَٰبَ
وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا۟ عِبَادًا لِّى مِن
دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُوا۟ رَبَّٰنِيِّۦنَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ
ٱلْكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن
تَتَّخِذُوا۟ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّۦنَ أَرْبَابًا ۗ أَيَأْمُرُكُم بِٱلْكُفْرِ بَعْدَ
إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨٠﴾ وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّۦنَ لَمَآ ءَاتَيْتُكُم
مِّن كِتَٰبٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا
مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥ ۚ قَالَ ءَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ
عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِى ۖ قَالُوٓا۟ أَقْرَرْنَا ۚ قَالَ فَٱشْهَدُوا۟ وَأَنَا۠ مَعَكُم
مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨١﴾ فَمَن تَوَلَّىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٨٢﴾ أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

۷۸. او بیشکه له هغوي (اهل کتابو) څخه یو ټولے داسې دے چې (د خپل لاس لیکلې شوې تورات د لوستلو په وخت) خپلې ژبې اړوي (راړوي) د دې لپاره چې تاسو دا (لوستل) له هماغه (تورات) کتابه وګڼئ. په داسې حال کښې چې هغه له (تورات) کتابه څخه نه وي او وایي چې دا د خدای له طرفه دي په داسې حال کښې چې د خدای له طرفه نه وي او دوي سره د دې چې پوهیږي په خدای پورې دروغ تړي.

۷۹. هیڅ بني آدم سره دا نه ښایي چې خدای هغه ته کتاب او حکم[1] (د فیصلې حق یا شرعي حکمونه) او نبوت ورکړي بیا خلکو ته دا ووایي چې د خدای په ځای زما بندیان شئ خو (وایي به) خدای پېژندونکي او د هغه عبادت کوونکي (عالمان او عاملان) شئ ځکه چې د خدای کتاب مو (نورو ته) ښودهٔ او ځکه چې په خپله مو هم لوستهٔ.

۸۰. او (پیغمبر هیڅ کله) تاسو ته حکم نه کوي چې تاسو ملائیکې او نبیان په خدایۍ ونیسئ آیا (دا کیدے شي چې) تاسو ته له مسلمانیدو وروسته بیا د کفر حکم درکړي؟!

۸۱. او (یاد کړه هغه وخت) کله چې خدای له پیغمبرانو (او د هغوي له امتونو) وعده اخستې وه چې له دې وجې چې تاسو ته مو کتاب او حکمت درکړ نو بیا چې کله تاسو ته یو پیغمبر درشي چې د هغه څه تصدیق وکړي چې کوم له تاسو سره دي، نو باید په هغه ایمان راوړئ او د هغه مرسته (مدد) وکړئ[2]. ویې ویل: آیا اقرار کوئ (دا خبره منئ) او له ما سره کړې وعده مو قبول کړه؟ ویې ویل: اقرار کوو. ویې فرمایل: ګواه اوسئ او زهٔ هم تاسو سره له ګواهانو نه یم.

۸۲. نو څوک چې له دې وروسته له دې (وعدې) وګرځیدل نو هم هغه فاسقان دي.

۸۳. آیا د خدای د دین نه علاوه (بل دین) لټوي. په داسې حال کښې چې څه چې په آسمانونو او ځمکه کښې دي ټولو په خوښه یا په زور هغه ته غاړه ایښې ده. او ټول به هغه ته بوتلل کیږي.

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

۱ حکم او حکمت په یوه معنی دي لکه څنګه چې ذُلّ او ذلت په یوه معنی دي او حکم د فیصلې او حکم کولو په معنی هم راغلې دے.

۲ دا خبري جمله ده خو د دې لپاره چې د امر معنی ورکوي نو لام تاکید مو په باید سره معنی کړے دے

قُلۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ
وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ
وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ
وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴿٨٤﴾ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن
يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾ كَيۡفَ
يَهۡدِي ٱللَّهُ قَوۡمٗا كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ وَشَهِدُوٓاْ أَنَّ
ٱلرَّسُولَ حَقّٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٦﴾ أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمۡ أَنَّ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةَ ٱللَّهِ
وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴿٨٧﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ
عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ
بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿٨٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ ثُمَّ ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا لَّن تُقۡبَلَ تَوۡبَتُهُمۡ
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلضَّآلُّونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ
كُفَّارٞ فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡ أَحَدِهِم مِّلۡءُ ٱلۡأَرۡضِ ذَهَبٗا وَلَوِ
ٱفۡتَدَىٰ بِهِۦٓۗ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٩١﴾

۸۴. ووایه: مونږ ایمان راوړے دے په خدای باندې او په هغه څه چې په مونږ نازل شوي دي او په هغه څه چې په ابراهیم. اسماعیل. اسحاق. یعقوب او د هغه په اولاد نازل شوي دي او په هغه څه چې موسیٰ. عیسیٰ او (نورو) پیغمبرانو ته د خدای له طرفه ورکړے شوي دي مونږ د دوي تر مینځ په یوه کښې هم فرق نه کوو او مونږ یوازې هغه ته غاړه اینښې ده.

۸۵. او څوک چې د اسلام نه بغیر بل دین لټوي (اختیار کړي) نو له هغه به هیڅکله قبول نه کړے شي او په آخرت کښې به له زیانکارانو څخه وي.

۸۶. خداي هغه ټولے ته څنګه (د نیغې لار) هدایت وکړي چې له ایمان راوړلو (وروسته) او له دې وروسته چې ګواهي یې ورکړې وه چې (دا) رسول حق دے او ښکاره دلیلونه ورته راغلي وو (بیا) کافران شول او خدای ظالمو خلکو ته (د نیغې لار) هدایت نه کوي

۸۷. د دوي سزا دا ده چې په دوي دې د خدای او د پرښتو او د ټولو خلکو لعنت وي.

۸۸. تل به په هغې (لعنت. دوزخ) کښې وي نه به ترې عذاب سپکیږي او نه به ورته مهلت ورکیږي.

۸۹. خو هغه کسان چې له دې (کافریدو) وروسته یې توبه وکړه او خپل ځان یې اصلاح (سم) کړ. نو خدای بخښونکے ډېر مهربان دے.

۹۰. کوم کسان چې له ایمان راوړلو نه پس کافران شول بیا یې خپل کفر نور هم زیات کړ نو د هغوي توبه به هیڅ کله نه قبلیږي او هم دغه کسان ګمراهان دي.

۹۱. کوم کسان چې کافران شول او د کفر په حالت کښې مړه شول نو که د زرو ډکه ځمکه هم په تاوان کښې ورکړي (بیا به هم) له یوه کس هیڅ‌رې قبوله نشي. د هغوي لپاره دردناک عذاب دے او هیڅ مرستیال (مددګار) یې نیشته.

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی